# آزادي

## څه ته وائي؟

**12-August-2021**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کيدونکے

د سُنَّتو ډك بيان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# آزادي څه ته وائي؟

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو**! چې کله جُمات ته داخل شئ، نو په ياد سره د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې په جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي. ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدلو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د مخکښې نه مو د اعتکاف نِيَّت کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

د سردارِ مَکَّه، شَهَنشاهِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې په کتاب کښې په ما باندې دُرُود پاك اوليکلو، تر څو پورې چې زما نوم په [هغه] کتاب کښې وي، فرښتے به د ليکونکي د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي. (1)

عجب کرم ہے کہ خود مجرموں کے حامی | گناہگاروں کی بخشش کرانے آئے ہیں

[1] …معجم اَوسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

وہ پرچہ جس میں لکھا تھا درود اس نے کبھی | یہ اس سے نیکیاں اس کی بڑھانے آئے ہیں[1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

**فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ (يعني) رښتينے نِيَّت د ټولو نه افضل عمل دے.[2]

اے عاشقانِ رَسُول! ياد ساتئ! په نيك او جائز كار كښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات كيږي. د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخكښې ښه ښه نِيَّتونه كوو:

نِيَّت اوكړئ چې، ❀ نظر به ښكته ساتم او ښه په غور به بيان اورم. ❀ چې څومره كيدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شكل كښې كښينم ❀ كه قلم كاغذ درسره وي نو د اهمو نكاتو نوټ كولو نِيَّت هم اوكړئ.

## بنـي اسرائيل: د غلامئ نه آزادئ پورې

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بنـي اسرائيل د خپل دور د اوچتې مرتبې قوم وو، په اصل كښې اسرائيل د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام لقب دے، د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام 12 ځامن وو يعني حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام او د هغه 11 ورونړه، د دوئي نه چې كوم

---

[1]...سامانِ بخشش، صفحه:9493 ملتقطاً۔

[2]...جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284۔

اولاد پيدا شو، د هغې نه 12 قبيلے جوړې شوے، هغوئي ته بنـي اسرائيل وائي. په قرآنِ کريم کښې په ډيرو مقاماتو کښې د بنـي اسرائيلو ذِکر موجود دے.

د بنـي اسرائيلو آبائي وطن مُلکِ شام کښې "کِنعان" نومې علاقه وه، چې کله حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام مِصر ته تشريف راوړو، دلته هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د نَبُوَّت اعلان اوفرمائيلو، مِصر والا ئې د کفر و شِرك نه منع کړل، هغوئي ئې د يو الله پاك عبادت طرف ته را اوبلل، الله پاك حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام ته د عزيزِ مِصر (يعنې د مصر د وزير اعظم) عهده عطا کړه، د هغه وخت بادشاه هم په حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام باندې ايمان راوړو او تابعدار شو، هغه وخت د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام والِدِ **محترم** حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام، او د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام 11 ورونړو او باقي ټول خاندان مصر ته تشريف راوړو.

بنـي اسرائيل د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام اولاد وو او د مصر وزيرِ اعظم حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام وو، لِهٰذا په مصر کښې د بنـي اسرائيلو ډير عِزَّت، مقام او مرتبه وه، خلقو به د هغوئي احترام کولو. آخر يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام د دُنيا نه تشريف يوړلو، وخت تيريدلو، صدئ تيرې شوے، سوونه کالونه پس يو مغرور او سرکشه کس د مصر وزيرِ اعظم جوړ شو د هغه نوم **وَلِيْد بِن مُصْعَبْ** او لقب ئې **فرعون** وو. دغه بدبخته د خدائي دعوٰی اوکړه او بنـي اسرائيل ئې خپل غلامان جوړ کړل. (1)

| | |
|---|---|
| گدا کو بادشاہ یا بادشاہوں کو گدا کر دے | میرے مالک تُو جب چاہے کسی کو کیا سے کیا کر دے |

دا هم د قدرت يوه عجيبه ننبه ده، الله چې چا له اوغواړي بادشاهي ورکوي او چا له چې اوغواړي د غلامئ په زنځيرونو کښې ئې اُوتړي.

[1]...تفسیر نعیمی، پارہ:1، البقرۃ، جلد:1، صفحہ:328و370خلاصةً۔

وَ تُعِزُّ مَنْ تَشَآءُ وَ تُذِلُّ مَنْ تَشَآءُ ؕ (پارہ3،سورۂ آلِ عمران:26)

**مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان:** او ته چې چا له اوغواړې عِزَّت وركوې او چا له چې اوغواړې ذِلَّت وركوې.

کسی کو تاج و قار بخشے، کسی کو ذِلّت کے غار بخشے
جو سب کے ماتھے پہ مُہرِ قُدرت لگا رہا ہے، وہی خُدا ہے

په اصل كښې دا يو ازميښت دے، انسان ازمائيلے كيږي، ګوري: چې څوك څنګه دے؟ الله پاك ته خو هر څه معلوم دي، هغه ته معلوم دي چې څوك نيك دے، څوك بد دے، الله پاك ته معلوم دي چې څوك واقعي نيك دے او څوك صرف نيك ښكاري، الله پاك ته د ازميښت او امتحان اخستلو حاجت نشته، خو په انسان كښې دننه چې كوم صفت دے، په يو ښه انسان كښې دننه چې كوم ښه والے دے او په يو بد انسان كښې دننه چې كوم شيطان دے، چې هغه دُنيا ته ښكاره كړے شي، بادشاهانو نه غلامان او دغلامانو نه بادشاهان جوړ كړے شي او د انسان د حقيقت نه پرده اوچته كړے شي، څومره خلق داسې دي چې بادشاهان جوړ شوي دي يا په يوه غټه عُهده، منصب باندې فائز وي نو ډير نيك وي، ډير شكر ادا كوونكے وي، رحم دله وي خو چې كله ترينه بادشاهي، عهده او منصب واخستے شي، نو بيا د هغه اصليت دُنيا ته ښكاره شي، په بادشاهي يا منصب تللو باندې هغه د خپل ربّ نه ګيله كول شروع كړي، چا چې بادشاهي وركړي وه، چا چې عهده، منصب وركړے وو، نو دراصل د داسې خلقو په زړونو كښې د الله پاك سره محبت نه وي بلكه دوئي د خپل منصب او عهدے سره محبت كوي، ډير خلق داسې وي كوم چې كله فقير، غريب وي نو ډير نيك، رحم دله او شُكر ګزاره وي، خو چې څنګه ورته منصب، عهده ميلاؤ شي، يا مالدار شي نو د هغوئي هغه دننه غرور، تكبر دُنيا ته ښكاره شي، دا هم د الله پاك سره محبت كوونكي نه دي بلكه په اصل كښې د خپل خواهش، غُرور او تكبر غلامان

دي، د الله پاك رښتينے بنده هغه دے چې په هر حال کښې يو شان اوسي، او په غريبئ اومالدارئ او منصب هر حال کښې د الله پاك شکرګزاره اوسي.

د بنـي اسرائيلو هم ازمېښت اوکړے شو، د فرعون هم امتحان واخستے شو، حضرت يوسف عَلَيۡهِ السَّلَام کوم چې د مصر حکمران وو، کوم چې د مصر باقاعده مالِك وو، د قحط په ورځو کښې ئې باقاعده مصر اخستے وو، د مصر ټول خلق ئې اخستي وو، او خپل غلامان ئې جوړ کړي وو، بيا ئې ازاد کړل، بيا داسې وخت راغے چې د هُم هغه حضرت يوسُف عَلَيۡهِ السَّلَام اولاد او د هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام د ورونړو اولاد په مصر کښې غلامان جوړ کړے شُو، فرعون ته د مصر بادشاهي ورکړے شوه، دا يو امتحان وو، په دې امتحان کښې بنـي اسرائيلو صبر اوکړو خو فرعون سرکشي اوکړه، دغه بدبخته د خدائي دعوٰی اوکړه، بنده وو، بنده جوړ نه شو، د خدائے جوړيدو کوشش ئې اوکړو، د هغه تکبر دُنيا ته ښکاره شو، د غرور او سرکشئ خبرې ئې شروع کړې، بيا الله پاك حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام نبـي جوړ کړے را اوليږو.

حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام فرعون ته د حق دعوت ورکړو، بنيادي طور د دې دعوت دوه موضوع ګاني وے: 1 فرعون چې د خدائي کومه دعوٰی کړي وه د هغې نه دِ توبه اوکړي، بنده دے، بنده دِ جوړ شي، د يو الله پاك تابعداري دِ اختيار کړي. 2 فرعون په ناحقه بنـي اسرائيل خپل غلامان جوړ کړي وو، هغوئي دِ د غلامئ نه ازاد کړي.

په قرآنِ کريم کښې دي، کله چې حضرت موسٰی عَلَيۡهِ السَّلَام فرعون ته اوفرمائيل:

| | |
|---|---|
| قَدۡ جِئۡتُكُمۡ بِبَيِّنَةٖ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ فَأَرۡسِلۡ مَعِيَ بَنِيٓ إِسۡرَآءِيلَ ﴿۱۰۵﴾ (پاره9،سورۃالاعراف:105) | **مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان:** بيشکه ما تاسو ټولو ته ستاسو د ربّ له طرفه ښنبه راوړي ده نو بنـي اسرائيل زما سره پرېږ ده. |

حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام په خپله دعوٰی باندې دلائل وړاندې کړل، معجزات ئې اوښودل، فرعون او د فرعون قوم ئې پوهه کړو خو فرعون ضِدّي وو، ضِدّي پاتې شو، سرکشه وو، سرکشه پاتې شو، فرعون د طاقت، سلطنت او د تاج و تخت په نشه کښې وو، بدبخته وو د حضرت موسٰیعَلَیْہِ السَّلام نافرماني اوکړه، د حضرت موسٰیعَلَیْہِ السَّلام په شان کښې ئې ګستاخئ اوکړې، حضرت موسٰیعَلَیْہِ السَّلام، او بنـي اسرائيلو ته ئې د تکليفونو ورکولو کوشش اوکړو، مَعاذَ الله! د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام د شهيد کولو منصوبے ئې جوړې کړې . چې کله فرعون په خپل کفر قائم پاتې شو، ټول حدونه ئې مات کړل او د بنـي اسرائيلو آزادولو ته تيار نه شو نو الله پاك فرعون سره د هغه د لښکره غرق کړو او دا د هميشه هميشه د پاره د دوزخ خشاك اوګرځيدل. [1] دغسې د حضرت موسٰیعَلَیْہِ السَّلام په برکت بنـي اسرائيلو ته د آزادئ نِعمَت نصيب شو.

## آزادي يو نِعمَت دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د کفر د غلامئ نه، د کافرانو، ظالمَانو د غلامئ نه آزادي نصيب کيدل د الله پاك ډير لوئے نِعمَت دے. الله پاك په **سُوْرَةُ الْبَقَرَه** کښې د بنـي اسرائيلو ذِکر کړے دے، په دې کښې بنـي اسرائيلو ته د اسلام دعوت ورکړے شوے دے، الله پاك چې بنـي اسرائيلو ته کوم نِعمتونه ورکړي وو، هغه شمار کړے شوي دي، په هغي کښې اوَّل نِعمَت کوم چې الله پاك بيان کړے دے هغه آزادي ده. ارشاد فرمائي:

---

1...تفصیل کے لئے دیکھئے: پارہ:9، الاعراف، آیت:104تا137خلاصۃً۔

وَ اِذْ نَجَّیْنٰكُمْ مِّنْ اٰلِ فِرْعَوْنَ یَسُوْمُوْنَكُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِ یُذَبِّحُوْنَ اَبْنَآءَكُمْ وَ یَسْتَحْیُوْنَ نِسَآءَكُمْؕ وَ فِیْ ذٰلِكُمْ بَلَآءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِیْمٌ(۴۹) وَ اِذْ فَرَقْنَا بِكُمُ الْبَحْرَ فَاَنْجَیْنٰكُمْ وَ اَغْرَقْنَاۤ اٰلَ فِرْعَوْنَ وَ اَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ(۵۰)

(پاره1، سورةالبقرة:49، 50)

**مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان:** او (ياد کړئ) چې کله مونږه تاسو ته د فرعونيانو نه خلاصے درکړو چي تاسو لره به ئي ډير بد عذاب درکولو ستاسو ځامن به ئي حلالول او لونړه به ئي درله ژوندئ پريښودلې او په هغې کښې ستاسو د رب له طرفه لوئي ازميښت وو. او ياد کړئ چې کله مونږ ستاسو د پاره درياب اوشلولو نو مونږه تاسو بچ کړئ او فرعونيان مو ستاسو د سترګو د وړاندې غرق کړل.

## د آزادئ نه پس د بنـي اسرائيلو حالات

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** الله پاك بنـي اسرائيلو ته د فرعون د ظُلم و سِتم نه آزادي ورکړه، هغوئي له پکار وو چې د الله پاك د دې نِعمَت شُکر ئې ادا کړے وے، د الله پاك په بارګاه کښې په سجده پريوتي وے، د الله پاك تابعداري ئې کړے وے، د الله پاك احکام ئې د زړه په صدق منلي وے، خو بنـي اسرائيلو ناشکري اوکړه.

❀ چې کله فرعون غرق شو، بنـي اسرائيلو د هغه غرقيدل اوليدل، الله پاك په درياب کښې 12 لارې جوړې کړې، د درياب اوبه د ديوالونو په شان اودريدې او په مينځ کښې ئې لارې جوړې شوے، بنـي اسرائيل په هغه لارو باندې په آرام سره په درياب پوريوتل، فرعون هم په هغوئي پسې درياب ته داخل شو، چې څنګه بنـي اسرائيل د درياب بلې غاړې ته بهَر اووتل نو ناڅاپه د درياب اوبه پرايو ځائے شوے او

فرعون د خپل ټول لښکر سره غرق شو. (1) دا عبرتناك منظر او د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام عظِيمُ الشَّانه مُعجِزه بنـي اسرائيلو په خپلو سترګو اوليدله، خو چې د هغه ځائے نه لږ اخوا لاړل، اوئې ليدل چې يو قوم د بوتانو په عبادت کښې مصروف دے، شِرك كوي، چې دا ئې اوليدل نو بنـي اسرائيلو اووئيل:

يٰمُوْسَى اجْعَلْ لَّنَاۤ اِلٰـهًا كَمَا لَهُمْ اٰلِـهَةٌؕ (پاره9،سورۃالاعراف:138)

مفهوم ترجمه کنزُالعِرفان: اے موسٰی! زمونږ د پاره هم داسې معبود جوړ کړه څنګه چې د دوئي معبودان دي.

اَللّٰهُ اَكْبَرُ! اوس لږ مخکښې ئې د يو کافر بد ترين انجام اوليدلو او زَړَورتيا ئې اوکورئ چې د الله پاك د نبـي حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام نه د شِرك اِجازت غواړي.

❀ الله پاك حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام ته تورات شريف عطا كولو د پاره كوهِ طُور ته را اوبللو، حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلام 40 ورځې په كوهِ طور کښې وو، هلته بنـي اسرائيل بے لارې شو، سامري نومې جادوګر د هغوئي د پاره د سرو زرو نه يو سخے جوړ کړو، بنـي اسرائيلو هغه سخے خپل خدائے قرارکړو.(2)

❀ بنـي اسرائيلو ته تورات عطا شو، تورات شريف د څلورو آسماني كتابونو نه يو كتاب دے، دا د ټولو نه وړومبے آسماني كتاب دے، بنـي اسرائيلو په دې كتاب باندې د عمل كولو نه صفا صفا انكار اوکړو، الله پاك كوهِ طُور د ستې نه اوچت کړو او د هغوئي په سرونو ئې را زوړند کړو او اوئې فرمائيل:

---

[1]…تفسير نعيمى، پاره:1، البقرة، زيرِ آيت:50، جلد:1، صفحه:378، خلاصةً۔

[2]…تفصيل کے لئے دیکھئے: پاره:16، سورۂ طٰهٰ، آيت:77تا87۔

| | |
|---|---|
| خُذُوْا مَاۤ اٰتَیْنٰكُمْ بِقُوَّةٍ وَّ اذْكُرُوْا مَا فِیْهِ (پارہ1،سورۃالبقرۃ:63) | **مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان:** مضبوط اُونيسئ هغه (كتاب) كوم چې مونږ تاسو ته دركړے دے او څه چې په هغې كښې بيان كړے شوي دي هغه ياد كړئ په دې اُمِّيد چې تاسو پرهيزګاره جوړ شئ - |

هغه وخت په دې ويره چې هسې نه كوهِ طُور را باندې را اوغورزولے شي ، هغوئي په تورات شريف باندې د عمل كولو وعده اوكړه خو بيا د خپلې وعدے نه واوښتل. (1)

غرض دا چې بنـي اسرائيلو د آزادئ د نِعمَت قدر اونـكړو، د حضرت موسٰى عَلَيْهِ السَّلام نافرماني ئې اوكړه او په تورات باندې د عمل كولو نه ئې انـكار اوكړو، آخر دا چې په هغوئي باندې د الله پاك غضب راغے او په ذِلت كښې اخته كړے شو، الله پاك ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ ضُرِبَتْ عَلَیْهِمُ الذِّلَّةُ وَ الْمَسْكَنَةُ ۗ وَ بَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ؕ (پارہ1،سورۃالبقرۃ:61) | **مفهوم ترجمه كنزُالعِرفان:** په هغوئي باندې ذِلَّت او غريبي مَسَلَّط كړے شوه او هغوئي د خدائے د غضب حقدار شو. |

په بنـي اسرائيلو باندې دا ذِلَّت ولے مَسَلَّط كړے شو، په هغوئي باندې د الله غضب ولے اوشو، د دې سبب هم الله پاك د دې سره بيان كړے دے، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّ كَانُوْا یَعْتَدُوْنَ ﴿۶۱﴾ (پارہ1،سورۃالبقرۃ:61) | **مفهوم ترجمه كنزُ العِرفان:** دا په دې وجه چې هغوئي نافرماني كړي وه او مسلسل سركشي ئې كوله. |

---

1 ...تفصیل کے لئے دیکھئے: پارہ:1، البقرۃ، آیت:63تا64۔

جو کچھ ہیں وہ سب اپنے ہی ہاتھوں کے ہیں کرتوت شکوہ ہے زمانے کا نہ قسمت سے گلہ ہے
دیکھے ہیں یہ دِن اپنی ہی غفلت کی بدولت سچ ہے کہ بُرے کام کا انجام بُرا ہے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## پاکستان او د تحريكِ آزادئ مُختصر تاريخ

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دوه ورځې پس زمونږه هم د يومِ آزادئ راروانه ده، زمونږه خوږ مُلك "اسلامي جمهوريه پاکستان" په 14 اګست 1947ء کښې آزاد شوے دے، يعني مونږ ته د آزادئ د نِعمَت نصيب کيدو 74 کاله کيدو والا دي، په دې خبره کښې څه شك نشته چې د بنـي اسرائيلو په آزادئ کښې او د پاکستان په آزادئ کښې د زمکې او آسمان فرق دے، بنـي اسرائيل د فرعون نه آزادوونکے د الله پاك نبـي حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام وو او د پاکستان د آزادئ د پاره کوشش کوونکي د الله نبيان نه وو بلکه د اِمامُ الانبياء، محبوبِ خدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان او منونکي وو، **دا خبره ياده ساتئ!** چې غيرِ نبـي هيڅ کله هم د نبـي برابر نه شي کيدے، په دې وجه د بنـي اسرائيلو په آزادئ کښې او د پاکستان په آزادئ د زمکې او آسمان فرق دے، خو د بنـي اسرائيل په آزادئ کښې، د آزادئ نه پس د هغوئي په عمل او کردار کښې زمونږ د پاره عِبرَت او نَصِيحت دے، د دې نه مونږ ته معلومه شوه چې آزادي څه ته وائي؟ د آزادئ په ميلاويدو باندې څه کول پکار دي؟ د آزادئ نصيب کيدو نه پس زمونږ د ژوند انداز څنګه پکار دے؟

لږ د پاکستان په تاريخِ آزادئ باندې نظر واچوئ! په 1857ء کښې د آزادئ د پاره وړومبے اجتماعي او مُنَظَّم کوشش اوکړے شو، د دې آزادئ د پاره د ټولو نه اوَّل آواز اوچتوونکے عاشِقِ رسول، ماهِرِ عالِمِ دين حضرت عَلَّامه فَضلِ حَق خير آبادي رَحْمَةُ الله

عَلَيْه وو، حضرت عَلَّامه فَضلِ حَق خير آبادي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د کافرو خلاف يوه فَتوٰی اوليکله، د بَرِّصَغِير لويو لويو عُلمائے کرامو د دې فتوے تصديق او تائيد اوکړو، اعلیٰ حضرت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه هغه وخت پيدا شوے وو، د اعلیٰ حضرت تاريخ پيدائش 1856ء دے، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نيکه مولانا مُفتي رضا علي خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه او د هغوئي والِدِ مُحترَم مولانا نقي علي خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دغه فتوے تائيد اوکړو.(1)

د آزادئ په دې کوشش کښې مسلمانان [وقتي طور] د ناکامئ سره مخ شو، حضرت عَلَّامه فَضلِ حَق خير آبادي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته سختې سزاګانې ورکړے شوے، علامه کفايت علي کافي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او نور ډير علمائے کرام مَعَاذَ الله! شهيدان کړے شو، د يوې اندازے مطابق هغه وخت د علمائے اهلسُنَّت تقريباً 22 زره علمائے کرام شهيدان کړے شو. (2)

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا د تحريکِ آزادئ اوَلنئ قربانئ وه، اګرچې په ظاهره مسلمانان ناکامه شو خو د مسلمان په زړه کښې چې اِيمان پوخ وي، يقين ئې پوخ وي، هغه د ناکامئ نه نه ويرېږي بلکه مخکښې ځي، ډاکټر اقبال ډيره ښکلي خبره کړي ده:

| | |
|---|---|
| جھپٹنا، پلٹنا، پلٹ کر جھپٹنا | لہو گرم رکھنے کا ہے اِک بہانہ |

عُقاب چې د مرغو بادشاه ورته وائي، دا په خپل ښکار باندې غوټه کوي، بيا شا ته کيږي، بيا غوټه کوي، بيا ترينه شاته کيږي، اقبال وائي: د عُقاب دا غوټه کول او شاته کيدل، دا د هغه ناکامي نه ده بلکه دا د هغه ورزش دے چې د دې په وجه عُقاب د خپلې

1... تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسنّت کا کردار، صفحه:2۔

2... تحریکِ آزادی 1857ء میں علما کا مجاہدانہ کردار، صفحه:22تا23و29ملتقطاً۔

ويني رفتار برابر ساتي، د مومِن بنده هم داسې مِثال دے، مُومِن خپل مقصد طرف ته ورمخکښې کيږي، ناکامه کيږي، بيا ورمخکښې کيږي، بيا ناکامه کيږي، بيا ورمخکښې کيږي، مُومِن شکست نه مني، کوشش کوي او آخر کامياب شي.

په 1857ء کښې اګرچې مسلمانان ناکامه شول خو مسلمانان شا ته نه شول، مسلمانانو د آزادئ کوشش جاري اوساتلو. کافرو اوليدل چې په مسلمانانو کښې د آزادئ جَذبه په هيڅ طريقه هم کمه نه شوه، نو بيا هغوئي د مسلمانانو د اصل طاقت ختمولو او د مسلمانانو د اِيمان کمزوري کولو د پاره د دوئي د زړونو نه د عشقِ رسول د جَذبے ختمولو منصوبه جوړه کړه، د دې د پاره کافرانو خپل تعليم يافته خلق په عوامو کښې ورننباسل، هغه خلقو د اسلام په تعليماتو باندې اعتراضات شروع کړل، په قرآنِ کريم، او د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاك سيرت باندې ئې اعتراضات شروع کړل، دغسې د عوامو په ذِهنونو کښې د شك پيدا کيدو کوشش شروع کړے شو. (1)

په دې دوران کښې تحريكِ خلافَت شروع شو، تحريكِ ترکِ موالات، تحريكِ هجرت شروع شو، د دې تحريکونو په ذريعه مسلمانان دوکه کړے شو، ډير زيات مسلمانان په دې سازش کښې ګرفتار شو، ډير مشران رهنما هم د کافرانو په جال کښې اونښتل، قائداعظم محمد علي جناح او ډاکټر محمد اقبال دا تحريکونه د مسلمانانو د پاره سخت نقصاني اوګڼړل، چې کله تحريكِ ترکِ موالات روان وو، کانګريس هم په دې کښې حِصَّه واخستله، هغه وخت قائداعظم محمد علي جناح کانګريس سره خپل تَعَلُّق ختم کړو، خو هغه وخت سختې فتنې وے، د فتنو يو طوفان راغلے وو، کافرانو مسلمانان د آزادئ په لالچ کښې د خپل دِين، مذهَب او اِيمان نه لرې کول، په کوڅو، سړکونو کښې ئې

---

[1]... تحريکِ پاکستان ميں علماءِ کرام کا کردار، صفحه:58 بتغير قليل۔

جلوسونه ويستل، ډير داسې کافران چې په ظاهره ئې کلمه لوستله، هغوئي پخپله د مسلمانانو په جامه کښې وو او کافران ئې خپل مشران منل او هغه کافران ئې په منبرونو کښينول، په جماتونو کښې د کافرو په حق کښې نعرې لګيدلې، که هغه وخت کافران په خپل سازش کښې کامياب شوي وے نو مسلمانان به د آزادئ نه محرومه پاتې کيدلو سره سره د دِين نه هُم محرومه شوي وے. ځکه د آزادئ په تاريخ کښې دغه مشکل وخت وو، په دغه مشکل وخت کښې يو شخصيت په ميدان کښې وو او هغه اعلٰی حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت، شاه احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ وو. چې تحريکِ خلافَت شروع شو نو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ''دَوَامُ الْعَيْش'' نامې رساله اوليکله او د هغې په ذريعه ئې د مسلمانانو رهنمائي ئې اوکړه، چې تحريك ترکِ مَوالات شروع کړے شو نو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ رساله ''نَابِغُ النُّوْر'' نومې رساله اوليکله، په دغه رساله کښې ئې د کافرانو خور کړے جال خلقو ته ښکاره کړو. چې تحريکِ هجرت شروع شو نو هغوئي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ رساله ''اِعْلَامُ الْاَعْلَام'' اوليکله، دغه رسالے د کافرانو سازشونه بالکل ناکامه کړل، دا درې واړه رسالے نن هم په فتاوٰی رضويه جلد 14 کښې موجودې دي.

کوم کافرانو چې په قرآن و سُنَّت باندې د اعتراضونو کولو په ذريعه د مسلمانانو د اِيمان کمزورې کولو کوشش کولو، اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ هغوئي ته په دغه رسالو کښې زبردست جوابونه ورکړل، کافرانو زمونږ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بےعيبه ذات کښې مَعَاذَ الله! د عيب راويستلو ناپاکه کوشش اوکړو، اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ هغوئي ته زبردست جوابونه ورکړل او د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ناموس [يعني عِزَّت] باندې ئې څوکئ اوکړه. چې کله کافرو د مسلمانانو په معيشت باندې حمله اوکړه نو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د هغې هُم ردّ اوکړو، يعنې کافرانو په مسلمانانو باندې تعليمي ادارے، سکولونه، کالجونه وغيره بند کړل او هغه داسې چې د قرآنِ کريم غلط تفسيرونه ئې

اوکړل، د قرآني آيتونو معنې ئې بدلې کړې او مسلمانانو ته ئې اولوستلې او د هغې په ذريعه ئې د مسلمانانو ذِهن خراب کړو چې قرآنِ کريم په دې وخت کښې ستاسو د تعليمي ادارو بندولو او ستاسو د کاروبار بندولو حکم کوي، لِهٰذا تاسو په دې باندې عمل اوکړئ. هغه وخت په پوره بَرِّصغير کښې د مسلمانانو يو څو سکولونه او کالجونه وو، هغه ئې هم پرې بند کړل نو ډاکټر اقبال د دې سخت مُخالَفَت اوکړو او د لاهور اسلاميه کالج د يو اُستاذ په ذريعه ئې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه د دې په باره کښې فتوٰی اوغوښتله، اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قرآن و سُنَّت په رنړا کښې جواب ورکړو او د کافرو سازش ئې ناکامه کړو. (1)

يو طرف ته اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل زبردست علم په ذريعه د مسلمانانو د اِيمان بچ کولو کوشش کولو او بل طرف ته ئې د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نعتونه ليکل، د شاعرئ په صورت کښې ئې شانِ مصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بيان کړو او د مسلمانانو په زړونو کښې ئې عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا کولو، د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خُلفاء، مريدانو، عقيدتمندو او نورو علمائے اهلِسُنَّت به د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تعليمات د برصغير کَوټ کَوټ ته رسول، خطيبانو حضراتو به په منبرونو باندې په محفلونو کښې د هغوئي تعليمات عام کول، نعت خوانانو حضراتو به د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکلي شوي نعتونه لوستل او د مسلمانانو د عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جذبه به ئې زياتوله.

## دو قومي نظريه او د دې وضاحت

---

[1]... تحريکِ پاکستان ميں علماء کرام کا کردار، صفحه:106۔

په دسمبر 1928ء کښې ډاکټر محمد اقبال د يو کانفرنس په دوران کښې دو قومي نظريه بيان کړه،[(1)] بيا په 1930ء کښې د اِلٰه آباد په کانفرنس کښې باقاعده طور د عوامو په وړاندې ډاکټر اقبال د دو قومي نظريے اعلان اوکړو.

دا دو قومي نظريه د ډاکټر اقبال خپل سوچ او فِکر نه وو، په اصل کښې دو قومي نظريه د قرآن و حديث تعليم دے، په اته ويشتمه سيپاره، سورهٔ **مُمْتَحِنَه** کښې د دو قومي نظريے بيان موجود دے. د تحريکِ آزادئ په موده کښې د ټولو نه وړومبے اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دو قومي نظريه پيش کړي وه، په 1897ء کښې د ډاکټر اقبال د دو قومي نظريه پيش کولو نه 29 کاله مخکښې په پټنه کښې يو کانفرنس شوے وو، په هغې کښې اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باقاعده دو قومي نظريه بيان کړي وه. په فتاوٰی رضويه، جلد14 کښې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يوه رساله " **اَلْمَحَجَّةُ الْمُؤْتَمِنَه**" ده. دا رساله اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 1920ء کښې ليکلي ده، په دې کښې د سورهٔ **مُمْتَحِنَه** د يو څو آيتونو تفسير دے، او د دې په رڼړا کښې د دو قومي نظريے پوره وضاحت شوے دے.[(2)]

په اصل کښې په 1857ء کښې چې کله د آزادئ تحريك شروع شو، د هغه وخت نه واخله د ډاکټر اقبال د دو قومي نظرئے بيانولو پورې به مسلمانانو د پوره بَرِّصغير د آزادئ مطالَبه کوله، ډاکټر اقبال په دو قومي نظريه کښې اصل دا وضاحت پيش کړو چې د اوس نه دِ مسلمانان د پوره بَرِّصغير د آزادئ په ځائے د ځان د پاره د جُدا وطن مطالبه کوي. مخکښې د دو قومي نظرئے بنياد د پوره بَرِّصغير د آزادئ مطالَبه وه، بيا د دې دو قومي نظرئے په بنياد د جدا وطن مطالبه شروع شوه، يعني بيا صرف تحريكِ آزادي

---

1...تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحہ:203۔

2...تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحہ:202و210۔

نه بلکه تحريكِ پاکستان هم جوړ شو.

بس اوس څه وو:چې د مسلمانانو په زړونو کښې د خپل جُدا وطن خواهش پيدا شو او په لږه موده کښې په پوره بَرِّصغير کښې خور شو، د ماشومانو، ځوانانو او بوډاګانو په ژبه بس يوه نعره وه:

لے کے رہیں گے پاکستان، بَن کے رہے گا پاکستان۔

پاکستان کا مطلب کیا: لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہ۔

کون ہمارے راہنما: مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰہ۔

## تحريكِ پاکستان او علمائے اَهلِسُنَّت

د تحریکِ پاکسان شروع کیدلو په وخت کښې اعلٰی حضرت وفات شوے وو، البته اعلٰی حضرت يو تنظيم جوړ کړے وو، دا تنظيم د اعلٰی حضرت په قابِلو شاګردانو او ماهرو علمائے اهلِسُنَّت باندې مشتمل وو، دې تنظيم په تحريكِ پاکستان کښې غټه حِصَّه اخستې وه. (1) ✿صَدْرُ الْاَفَاضِل مولانا نعيم الدين مراد آبادی ✿ مفتی احمد يار خان نعيمی ✿ خليفۀ اعلیٰ حضرت مولانا عبد العليم ميرتهی ✿ مولانا شاه احمد نورانی، ✿ د هغوئي والد او ✿ تره وغيره ✿ مولانا ديدار علی شاه ✿ محدثِ اعظم هند محدث کچهوچهوی ✿ مُحَدِّث علی پوری ✿ اَبُوالْحَسَنات سيد احمد قادری✿ عَلَّامه عبد الغفور هزاروی ✿ عَلّامه عبد الستار خان نيازی ✿ خواجه قمر الدين سيالوی ✿ پير جماعت علی شاه✿ عَلّامه سيد احمد سعيد کاظمی ✿ پير صاحب مانکی شريف، ✿ پير صاحب زکوړی شريف رَحمةُ اللهِ عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن او د دوئي نه علاوه په سوونو علماء او

[1] ...تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحه:202۔

مشائخِ اهلسُنَّت په تحريكِ پاكستان كښې پوره پوره حصَّه اخستي وه، د بَرِّصَغير په كُوَټ كُوَټ كښې تقريرونه شروع شو، نظمونه وئيل شروع شو، د مسلمانانو په زړونو كښې د پاكستان محبت واچولے شو، د علمائے اهلِسُنَّت په كتابونو كښې تر دې پورې ليك دي چې په 1946ء كښې چې تحريك پاكستان په آخري مرحلو كښې وو، د هغه وخت علمائے كرام كور په كور د دې دعوتونه وركړي وو او په مسلمانانو كښې ئې د تحريك پاكستان، اسلامي جمهوريه پاكستان محبت رابيدار كړے وو. (1)خليفهٔ اعلىٰ حضرت مولانا عبد العليم ميرټهى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د قائِدِ اعظم محمد على جناح باقاعِده ملګرے وو، قائِدِ اعظم هغوئي بهر ملكونو ته د سَفِير په طور ليږلے وو، عبد العليم ميرټهى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نورو ملكونو ته لاړو او د نظريهٔ پاكستان او تحريكِ پاكستان اُصُول و مقاصِد ئې بيان كړل، هغه وخت قائِدِ اعظم عبد العليم ميرټهى رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته د سفيرِ اسلام خطاب وركړو. (2) نقل شوي دي چې د پاكستان جوړيدو نه مخكښې چې كوم حج شوے وو، په هغه حج كښې د هندوستان نه تلي مسلمانان په مدينهٔ منوره كښې د اَمِيرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى صاحب دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د پير صاحب، قُطبِ مدينه، مولانا ضِيَاءُ الدِّين مَدَني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې حاضر شو او د دُعا د پاره ئې ورته عرض اوكړو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دُعا درخواست كوونكو سره د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم روضے مباركې ته حاضر شو، بيا د زړه په صدق ئې دُعا اوكړه او اوئې فرمائيل: پريشانه كيږئ مه، اِنْ شَآءَ الله پاكستان به ضرور جوړيږي. يو دُښمن طاقت د پاكستان د جوړيدو نه نه شي منع كولے. (3)

---

1...تحريکِ پاکستان ميں علماءِ کرام کا کردار، صفحه:211تا212۔

2... تخليقِ پاکستان ميں علماءِ اہلسنّت کا کردار، صفحه:11۔

3...تحريکِ پاکستان ميں علماءِ کرام کا کردار، صفحه:237۔

آخر د بُزُرګانِ دين، علماء، مشائخِ اهلسُنَّت، عوامو او مسلمانانو مشرانو ليډرانو خاص طور د قائِدِ اعظم محمد علي جناح کوششونه کامياب شول او 14 اګست 1947ء د رَمَضانُ المُبارَك 27 شپه وه، مسلمانان د ليلةُ القدر په عبادتونو کښې مصروف وو، په جماتونو کښې عبادتونه کيدل چې د شپې 12 بجے دا اعلان اوشو چې: د مسلمانانو جدا اسلامي ملك "اسلامي جمهوريه پاکستان" جوړ شو، د پاکستان جوړيدو نه درې ورځې پس د وړوکي اختر لمُونځ ادا کړے شو، قائِدِ اعظم محمد علي جناح په کراچۍ کښې په سرکاري سطح باندې د اختر لمُونځ ادا کړو او د هغه لـمانځه امامت خليفهٔ اعلٰي حضرت عَلَّامه عبدُ العليم ميرټهي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اوکړو. (1)

کبریا کا لطف تھا اور رحمتِ شاہِ زمَن
ہم پہ جِدّ و جُہدِ آزادی میں تھے سایہ فگن

ہم کو سینتالیس میں حاصِل ہوا اپنا وَطن
اَولیائے اُمَّتِ اَحْمد، صحابہ، پنجتن

اہلسنت والجماعت کی مقاصد سے لگن
سینکڑوں پیروں، ہزاروں عالموں کی دوڑ دھوپ

رنگ کیسے لے نہ آتی، کیوں نہ مل جاتا وطن
تھی نتیجہ خیر، ہم نے لے لیا اپنا وطن

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د آزادۍ نه پس زمونږه حال

**اے عاشقانِ رسول!** دا زمونږه او زمونږ د ملك د آزادۍ مختصره قِصَّه وه. مونږ ته د آزادۍ نِعمَت حاصليدو خلور اويا کاله کيدونکي دي. راځۍ چې اوس مونږه د بنـي اسرائيلو سره خپله موازنه اوکړو، ❀ بنـي اسرائيلو ته د فرعون نه آزادي حاصل شوه، مونږ ته د کافِر حکومت نه آزداي نصيب شوه، ❀ د بنـي اسرائيلو نبـي حضرت موسٰی

1 ... تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسنّت کا کردار، صفحه:12۔

عَلَیْہِ السَّلَام دے، زمونږه نبـي حضرت احمد مجتبٰی محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے،
✿بنـي اسرائيلو ته کتاب تورات شريف ميلاو شوے وو، مونږ ته د الله پاك له طرفه قرآنِ کريم ميلاو شوے دے،

بنـي اسرائيلو د حضرت موسٰی عَلَیْہِ السَّلَام نافرماني اوکړه، د تورات په احکاماتو ئې عمل اونکړو، د الله پاك نافرمانه شو، د آزادئ د نِعمَت شُکر ئې ادا نکړو، انجام ئې څه شو؟ ارشاد دے:

وَ ضُرِبَتۡ عَلَیۡہِمُ الذِّلَّۃُ وَ الۡمَسۡکَنَۃُ ٭ وَ بَآءُوۡ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰہِ ؕ

(پارہ 1، سورۃالبقرۃ: 61)

**مفہوم ترجمہ کنزُ العِرفان:** په هغوئي باندې ذِلَّت او غريبي مَسَلَّط کړے شوه او هغوئي د خدائے د غضب حقدار شو.

اوس دِ هر يو د خپل ځان په باره کښې غور اوکړي چې مونږه په قرآنِ کريم څومره عمل کوو؟ مونږه د خپل خوږ آقا، محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څومره فرمانبرداره يُو؟ مونږه لمُونځونه څومره ادا کوو؟ روژے څومره نيسو؟ د حج جذبه په مونږ کښې څومره ده؟ د زکوٰۃ ادا کولو مو څه صورتحال دے؟ دروغ، غِيبَت، چغلي، وعده خلافي، حسد، تکبر، فلمونه ډرامے، سندرې باجے، بے پردګي، فيشن پرستي، بے اِيماني، دونمبري، بدکاري، شراب، سُود، رشوت، حرامه ګټه، جنګ جګړې، کنزلې ويناګانې، هغه ټول کارونه د کومو نه چې قرآنِ کريم منع کړي يو، مونږه د هغې نه څومره ځان ساتُو، د مور و پلار عِزَّت، د ګاونډيانو، د دوستانو حقوق، د خپلو خپلوانو، د محلے د خلقو حقوق، د مسلمانانو خيرخواهي، د غريبانو سره محبت، د مشرانو سره مينه، په کشرانو باندې رحم کول، دا ټول هغه کارونه دي د کومو چې مونږ ته حکم راکړے شوے دے، مونږه په دې څومره عمل کوو؟

آه! كه مونږه د خپل ځان مُحاسبه اوكړو نو معلومه به شي چې د بنــي اسرائيلو په شان زمونږه حالت هم سخت افسوسناك دے، ډيره د افسوس خبره ده، په مونږ لازم دي چې د آزادئ د نِعمَت شُكر ادا كړو، مونږه د دې آزادئ مفهوم بدل كړے دے، نن صبا [ډير نادانه خلق] د هر څه نه آزاد اوسيدلو ته آزادي وائي، سيكولر اِزم او لِبرل ازم ته آزادي وائي.

## آزادي څه ته وائي؟

آيا تاسو ته معلومه ده چې: آزادي په اصل كښې څه ته وائي؟ آزادي: دا په اصل كښې د سوشيالوجي يوه اصطلاح ده. په سوشيالوجي كښې د آزادئ دوه قسمونه دي:

(1) **سياسي آزادي**: چې كله يو قوم د بل قوم په حكومت كښې وي نو هغه قوم په خپله مرضئ ژوند نه شي تيرولے، د هغه حاكِمِ قوم په مرضئ به ژوند تيروي، د حاكِمِ قوم جوړو شوو اُصولو مطابق به ژوند تيروي، بيا كه هغه قوم ته د هغه حاكِمِ قوم نه سياسي او حكومتي طور آزادي حاصله شي او د هغوئي خپل حكومت شي نو دې ته سياسي آزادي وائي.

(2) **شخصي آزادي**: څنګه به چې په مخكښې دور كښې باقاعده غلامان اخستل كيدل، د هغه غلامئ نه آزادئ ته شخصي آزادي وائي.

مونږ ته چې د كومې آزادئ نِعمَت حاصل شوے دے هغه سياسي يا حكومتي آزادي ده، څنګه چې بنــي اسرائيل اِيمان والاوو، د فرعون په حكومت كښې اوسيدل، دغه شان د مُغليه سُلطنت د زوال نه پس په برصغير باندې د كافرو حكومت راغـے او مسلمانان د كافرو په حكومت كښې راغلل، نو بيا به مسلمانان مجبوراً د هغه كافرو د جوړو شوو قوانينو مطابق ژوند تيرولو، ښكاره خبره ده، چې كافر كوم قانون جوړوي

هغه به د قرآن وسُنَّت مطابق نه وي ، په دې وجه مسلمانانو ته په قرآنِ کريم باندې، سُنَّتو باندې، د خپل دين په تعليماتو باندې په آزادئ سره عمل کول مشکل وو، چې کله به کافِر حکومت غوښتل په ديني مسائلو کښې به ئې رکاوټ پيدا کولو. په اصل کښې چې کومه آزادي مونږ ته حاصله شوه هغه دا ده چې مونږ ته په خپل دِين باندې په عمل کولو کښې څه رکاوټ نه وې ، قانون هم د مسلمانانو وي ، قانون ساز هم مسلمانان وي ، او په قانون باندې عمل کوونکي هم مسلمانان وي ، دو قومي نظريه د پاکستان اصل بنياد دے، د دې مطلب هم دا دے چې مسلمان يو جدا قوم دے، کافر يو جدا قوم دے، لِهٰذا د مسلمانانو وطن دِ هم جدا وي چې هغوئي هلته په آزادئ سره د خپل مذهب، تهذيب او ثقافت مطابق يعني د قرآن و سُنَّت د تعليماتو مطابق ژوند تيروي. يو ځل قائد اعظم محمد علي جناح په لاهور کښې د تقرير په دوران کښې اووئيل:

***Our God is Separate. Our Rasool is Separate***

زمونږ خدائے جدا دے. زمونږ رسول جدا دے (يعني مونږه يو الله خدائے منو او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غلامان يو)

***Our Religion is Separate. Our Culture is Separate***

زمونږه دين جدا دے، زمونږ د ژوند تيرولو طريقے هم جدا دي.

***Therefore we want a separate state. in which we can live Islamic life.*** [1]

1 ...تحريکِ پاکستان ميں علماءِ کرام کا کردار، صفحه:192۔

په دې وجه مونږه ځان له جدا ملك غوارو، چې په هغې كښې مونږه د خپل دِين مطابق اسلامي ژوند تيرولے شو،

دا ده آزادي، د يو پوره ژوند تيرولو آزادي. د دې آزادئ د پاره تقريباً د سلو كالو نه مسلمانانو كوششونه كول، د دې آزادئ د پاره په 1857ء كښې 22 زره علمائے كرام شهيدان شوي دي.

داسې اووائې چې كومه آزادي الله پاك مونږ ته عطا كړې ده، د كومې آزادئ د پاره چې پاكستان جوړ شوے دے، هغه په اصل كښې د خوږ آقا محمد مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامئ نوم دے. چې كله په برصغير كښې په مسلمانانو باندې كافرو حكومت كولو نو هغه وخت مونږه په آزادئ سره د مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامئ اظهار نه شو كولے. الله پاك مونږ ته جدا وطن راكړو چې مونږه په پوره آزادئ سره د مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامئ اظهار اوكړو. چې مونږ ته په لمَانځه اداكولو، روژو نيولو، حج ته تللو، قرباني كولو كښې څه ركاوټ نه وي، چې د اسلام په تعليماتو باندې عمل كولو كښې مونږ ته څه ركاوټ نه وي، چې مونږه په آزادئ سره د قرآنِ كريم مطابق، د حديثِ رسول مطابق، د خپلو بزرګانِ دِين د سيرت نه رهنمائي حاصلولو سره د مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامئ پوره اظهار كولے شو، د دې آزادئ د پاره مونږه پاكستان حاصل كړے دے.

## د اقبال په نظر كښې د آزادئ مطلب

چې كله ډاكټر اقبال دو قومي نظريه پيش كړه، په دې باندې كافرانو او تش د نوم مسلمانانو ډير شور اوكړو، په دې باندې د دواړه طرفه نه باقاعده د ليك او بيان په

صورت کښې بحث اوشو، هغه وخت ډاکټر اقبال یوه رُباعي اولیکله،(1) د هغې په آخري شعر کښې ډاکټر اقبال اولیکل:

بمصطفےٰ برساں خویش را کہ دیں ہمہ اوست | اگر بہ او نہ رسیدی تمام بولہبی است(2)

**وضاحت**: یعنې خپل ځان د خپل خوږ آقا، محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قدمونو مبارکو کښې واچوه، دا غلامي اصل دِین دے، که دا غلامي اونکړے شي نو دا دِین داري نه ده بلکه د ابولهب کافر پیروي ده.

دا ده آزادي. خپل ځان د خپل خوږ آقا محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قدمونو مبارکو کښې اچول، خپله مرضي، خپل خواهش، خپله آرزو ټول فنا کول او د زړه په صدق د مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غلامي کول، دا اصل آزادي ده. د دې آزادئ په بنیاد پاکستان جوړ شوے دے، خو آیا مونږه د خپل خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا غلامي کوو؟ افسوس! 74 کاله تیر شو خو مونږه دا غلامي اونکړه، بلکه مونږه د آزادئ مفهوم بدل کړے دے، مونږه په غلطو لارو تلل آزادي ګڼړلي ده، مونږه بے حیائي، فیشن پرستي او نورو فضولو کارونو ته د آزادئ نوم ورکړے دے، دا هیڅ کله آزادي نه ده، دا خو د نفس و شیطان غلامي ده، شیطان د ټولو نه غټ کافر دے، د کافرو د حکومت نه خو خلاص شو، خو بیا مو ځان د ټولو نه غټ کافر شیطان ته حواله کړو او د دې غلامئ نوم مو آزادي کیښودو، آیا دا آزادي ده؟ نه، نه، دا په اصل کښې غُلامي ده.

دا خبره همیشه یاده ساتئ، آزادي صرف او صرف د اللّٰه پاك او د مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په افرمانبردارئ سره میلاویږي. د دې نه بغیر په دُنیا کښې چرته هُم آزادي نه نه

---

[1] ...تحریکِ پاکستان میں علماءِ کرام کا کردار، صفحه:204خلاصةً۔

[2] ...کلیاتِ اقبال،ارمغانِ حجاز، حسین احمد، صفحه:754۔

شي ميلاويدے، څوك چې په دُنيا پسې روان وي، هغه د دُنيا غلام دے. څوك چې په مال پسې روان وي هغه د مال غلام دے، څوك چې د ښکلا او ښائست خواهش لري، هغه د حُسن غلام دے، څوك چې د مقام او مرتبے، منصب او عهدے مينه لري، هغه د مقام او مرتبے، منصب او عهدے غُلام دے. او څوك چې نور هر څه پريږدي او صرف او صرف د الله پاك بندګي او د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداري اختيار کړي هغه د هر څيز نه آزاد دے. ډاکټر اقبال وائي:

دَرْ اِطاعت کَوش اَے غَفْلَت شِعار | مِیْ شَوَد اَزْ جَبْر پَیْدا اِخْتِیار (1)

يعني اے غافله! په اطاعت کښې ښه کوشش اوکړه ځکه چې خپل نفس په قابو کښې ساتلو سره آزادي ميلاويږي.

حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تابعي بُزُرګ دے، د حضرت سلمان فارسي رَضِىَ اللهُ عَنْهُ په صُحبَت کښې پاتې شوے دے، حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چيلئ ساتلي وې. هغه [چيلئ] به ئې د دريائے فُرات غاړې ته بوتلې، هلته به ئې د الله پاك عبادت کولو، حضرت داتا ګنج بخش علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل مشهور کتاب "**کَشْفُ الْمَحْجُوْب**" کښې ليکي: يوه ورځ يو کس د دريائے فُرات په خوا تيريدلو، هغه اوليدل چې حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لمُونځ ادا کوي، او شرمښ د چيلو څوکئ کوي، دا ئې چې اوليدل نو هغه حيران شو، هغه کس د حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ملاقات د پاره حصار شو، چې کله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لمُونځ پوره کړو نو سلام ئې ورته اوکړو: هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سلام جواب ورکړو، هغه کس عرض اوکړو: جناب! ستاسو چيلو سره د شرمښ داسې مينه ده چې هغه د دوئي حفاظت کوي؟ اوئې فرمائيل:د چيلو مالِك د الله

---

1 …کلیاتِ اقبال فارسی، اسرارِ خودی، مرحلہ اول:درطاعت، صفحہ:57۔

پاك سره مَحَبَّت كوي (يعنې زه د الله پاك سره محبت كووم، په دې وجه زما سره، زما د څيزونو سره ځناور هم محبت كوي.) بيا حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د لرګي يوه پيالئ د كانړي لاندې كېښوده، د هغه كانړي نه فوراً د شَـودو او شَهدو [يعنې ګبين] دوه چينے جاري شوے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه كس ته د شَـودو او شهدو ډكه پيالئ وركړه، دا ئې چې اوليدل نو كس حيرانه پاتې شو او عرض ئې اوكړو:جناب! تاسو ته دا مقام څنګه حاصل شوے دے؟ هغوئي اوفرمائيل: د خوږ نبـي، مكي مدني سردار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تابعدارئ په ذريعه. (1)

كى مُحَمَّد سے وفا تُو نے تَو ہم تیرے ہیں | یہ جہاں چیز ہے کیا؟ لوح و قلم تیرے ہیں

سُبْحٰنَ الله! دا ده آزادي. آيا په دُنيا كښې چرته داسې آزادي شته چې شرمبن د چيلو څوكئ كوي؟ آو! دا خبره ټيك ده چې دا د حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُاللهِعَلَيْه كرامت وو او كرامت د الله پاك عطا ده، هيڅ څوك په خپل محنت سره ولي نه شي جوړيدے خو په دې كښې چې د پوهه كولو كومه نكته ده هغه د حضرت حبيب راعِـی رَحْمَةُاللهِعَلَيْه دا فرمان دے چې: ما ته دا مرتبه د خوږ نبـي، مُحَمَّدِ عَرَبِـی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اطاعت په ذريعه حاصله شوي ده، معلومه شوه: چې په اصل كښې آزادي د رسولِ اَكرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په غلامئ كښې نصيب كيږي، په كُلياتِ اقبال كښې دي:

صنوبر باغ میں آزاد بھی ہے' پابہ گِل بھی ہے | انہی پابندیوں میں حاصِل آزادی کو تُو کر لے (2)

"صنوبر يوه وَنَه ده، عموماً د كشمير په علاقه كښې دي، دا ډيره اوچته وي، اقبال د دې مثال وركړو چې صنوبر آسمان طرف ته په اوچت والي كښې آزاده ده، خومره چې غواړي اوچتيدے

---

1 ...كَشْفُ الْمَحْجُوْب، طبقه:تبع تابعين، حبيب بن اسلم راعى، صفحه:140، ماخوذاً۔

2 ...كلياتِ اقبال، بانگِ درا، پهول، صفحه:278۔

شي خو د دې ځيلې په زمكه كښې قيد دي، كه د صنوبر د ونې ځيلې د زمكې د قيد نه اُووِيستلے شي نو د دې د اوچت والي آزادي به ختمه شي، يعنې راغوزار به شي. ته هم د دې پابنديانو سره آزادي حاصله كړه، كه سپوږمۍ ته خيژې اوخيژه، كه ترقي كوې اوكړه، خو د قرآنِ كريم او اطاعتِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زنځير په غاړه كښې واچوه، بيا چې څومره اَلوځې، د راغورزيدو انديښنه به دِ نه وي.

**اے عاشقانِ رسول!** دا هغه آزادي ده كومه چې مُصَوِّرِ پاكستان ډاكټر اقبال بيان كړې ده، د خپل ځان نه تپوس اوكړئ! آيا مونږ ته دا آزادي حاصله ده؟ آيا واقعي مونږه په صحيح معنو كښې "غلامانِ رسول" يو؟ آيا زمونږه مخ د غلامانِ مصطفٰی په شان دے؟ آيا زمونږه جامې د غلامانِ مصطفٰی په شان دي؟ زمونږه د ژوند انداز، ناسته پاسته، د اوده كيدو بيداريدو، خبرو كولو، خوراك څښاك انداز، زمونږ د محنت كولو، ګټلو، اخلاقو، اوصافو انداز، آيا دا ټول د غلامانِ مصطفٰی په شان دي؟ كه نه دي نو بيا كله به كيږي؟ 74 كاله تير شو چې مونږ ته آزادي نصيب شوي ده، كه اوس هم مونږه په صحيح معنو كښې آزاد نه شُو، د نفس د غلامۍ نه، د شيطان د غلامۍ نه، د غيرمسلمو د تهذيب و ثقافت د غلامۍ نه كه اوس هُم آزاد نه شو نو بيا به كله آزاديږو؟

## جشنِ آزادي څنګه مناوول پكار دي؟

اوس دوه ورځې پس يوم آزادي راتلونكې ده، د جَشنِ آزادئ په موقع باندې زمونږ په مُعاشره كښې څنګه ماحول وي، سندرې باجے غږولے كيږي، هر طرف ته شور او زوَږ وي، لوفران هلاكان سكوټر په يو تير چلوي، په سړكونو ګډاګانې وي. آيا 14 اګست د دې فضولياتو ورځ ده؟ آيا تاسو ته معلومه ده چې 14 اګست څنګه ورځ ده؟ دا هغه ورځ ده چې په دې ورځ مسلمانانو د آزادئ حاصلولو د پاره خپل ځانونه قربان

کړي وو، د يوے اندازے مطابق چې پاکستان جوړ شو، " نو [د هغه وخته پورې د آزدۍ په جدو جهد کښې] 30 لاك مسلمانان شهيدان شوي وو." (1)

14 اګست د هغه شهيدانو د کليځې ورځ ده، د برسۍ په ورځ سندرې باجے نه غږولے کيږي، قرآنِ کريم لوستے کيږي، روژه نيولے کيږي، فاتحه لوستلے کيږي او خپلو شهيدانو، وفات شوو خلقو ته د هغې ثواب بخښلے کيږي. په 14 اګست عبادت اوکړئ، د شکرانے نوافل ادا کړئ او د پاکستان د پاره شهيدانو شوو خلقو ته ئې ايصالِ ثواب کړئ.

جشنِ آزادي څنګه مناوول پکار دي؟ راځئ چې د دې په باره کښې يو حديثِ پاك واورو: مونږه اوريدلي وو چې بنـي اسرائيلو ته د فرعون نه آزادي نصيب شوه، نو د الله پاك نبـي حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام دا ورځ څنګه مناو کړه؟ حديثِ پاك کښې دي: په مدينهٔ منوره کښې به يهودو په 10 محرم الحرام روژه نيوله، په تپوس کولو هغوئي اووئيل:په دې ورځ بنـي اسرائيلو ته د فرعون نه خلاصے نصيب شوے وو نو حضرت موسٰی عَلَيْهِ السَّلَام د دې په شکرانه کښې روژه اونيوله، په دې وجه مونږه هم په 10محرم روژه نيسو. (2)

سُبْحٰنَ الله! دا د جَشنِ آزادۍ مناوولو اصل طريقهٔ کار دے. الله پاك دِ مونږ ټولو ته هدايت را نصيب کړي، او د نفس و شيطان د غلامۍ نه دِ خلاصے را عطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

يا خُدا پاک وطن کی تُو حفاظت فرما | فضل کر اس پہ سدا سایۂ رحمت فرما

1... تخلیقِ پاکستان میں علماءِ اہلسنّت کا کردار، صفحه:14۔
2... بخاری، کتاب:الصوم، باب:صيام يوم عاشوراء، صفحه:524، حديث:2004۔

اس کو تُو قلعۂ اسلام بنا دے یا رَبّ
آج ہے امن وطن کا مرے پارہ پارہ
ہائے بدمست گناہوں میں ہوئے اہلِ وطن
بچہ بچہ ہو نمازی مرے پاکستاں کا

مرے پیارے وَطَن پاک پہ رحمت فرما
پھر مہیا مرے مولیٰ! اسے راحت فرما
یا خُدا سب کو عطا نیک ہدایت فرما
اور عطا جذبۂ پابندئ سُنت فرما

## دولسو ديني کارونو کښې يو ديني کار "مدني قافِله"

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي هم جَشنِ آزادي مناوهي، خو د دعوتِ اسلامي انداز يو جدا او ډير ښکلے دے، **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** د جَشنِ آزادئ په موقع باندې مدني قافِلے سفر کوي، په زرګاؤ عاشقانِ رسول په مدني قافلو کښې سفر کوي، ښارونو او کلو ته ځي، د دِين، قرآن و سُنَّت تبليغ کوي، پخپله هم لمُونځ ادا کوي، نورو ته هم د لمُونځ دعوت ورکوي او جمات ته د خلقو د راوستلو کوشش کوي، د قرآنِ کريم او د سُنتو فيضان عام کوي، د خلقو په زړونو کښې د عشقِ رسول د شمع روښانه کولو کامياب کوشش کوي. دغسې عاشقانِ رسول پخپله هُم دِين زده کوي او نورو ته ئې ورزده کوي او د حقيقي غلامانِ مصطفٰی جوړيدو کوشش کوي او نور هم د الله د لارې مُسافِر جوړوي.

**اے عاشقانِ رسول!** په 14 اګست سرکاري **چُھټي** وي، تاسو هم ذِهن جوړ کړئ او د رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حقيقي غلامان جوړيدو د پاره، د تحريك آزادئ د شهيدانو د ايصالِ ثواب د پاره عاشقانِ رسول سره په مدني قافِلو کښې سفر اوکړئ او د آزادئ د نِعمَت شُکر ادا کړئ.

## د زړه حالت ئې بدل شو

د فيصل آباد (پنجاب، پاکستان) اوسيدونکي د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده. د دعوتِ اسلامي ديني ماحول نه مخکښې زه ډير خراب او ګنهګار ووم، دروغ، غيبَت، **چُغلي**، او د بدنګاهي په ګناهونو کښې اخته ووم، ما مارشل آرټ زده کړے وو، د هغې په ذريعه به مې **خامخا د خلقو سره جګړې کولے، هر نوے فيشن زما شوق وو، افسوس! د لمُونځونو نه دومره بےخبره ووم چې دا راته هم معلوم نه وو چې د يو لمُونځ څو رکعته وي؟** آخر کار زما د قِسمَت ستورے داسې اوځليدو چې زما ملاقات د خپل يو دوست سره اوشو کوم چې د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته وو، هغه ما ته په مدني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، د دوست خبره مې اومنله او د درې ورځو د مدني قافلے مُسافِر جوړ شوم. په مدني قافله کښې د عاشقانِ رسول د صحبت په برکت ما ته د خپل ژوند مقصد معلوم شو، په خپلو ګناهونو شرمنده شوم، د سترګو نه مې د غفلت پرده لرې شوه، د زړه حالت مې بدل شو، د ګناهونو نه توبه ګار شوم او د دعوتِ اسلامي په ديني ماحول کښې مې ژوند تيرول شروع کړو. (1)

دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے
آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو

کر سفر آئیں گے، تو سُدھر جائیں گے
اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو(2)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ايپلي کيشن تعارُف

---

1 ...رسائل مدنی بهار، صفحه:74۔

2 ...وسائل بخشش، صفحه:672669۔

**اے عاشقانِ رسول!** **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دعوتِ اسلامي آئـي. ټـي **ډيپارټمنټ** يو موبائل ايپلي کيشن "آن لائن روحاني علاج و استخاره ***online rohani ilaj & istikhara*** جاري کړے دے، په دې ايپلي کيشن کښې ❁ آن لائن استخاره ❁ آن لائن مُريد ❁ آن لائن تعويذ❁ آن لائن کاټ او مختلف وظائف ❁ د بيمارو نه شِفا ❁ د غريبۍ نه نجات ❁ د غمونو نه خلاصے ❁ د مصيبتونو نه حفاظت او د ❁ دُعا قبليدو وغيره وظائف شامِل دي. تاسو په خپل سمارټ فون کښې دا موبائل ايپلي کيشن انستال کړئ، پخپله ترينه هُم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم درې ځله اوفرمائيل: "زما په نائب باندې دِ د **اللّٰه** پاك رحمت وي. عرض اوکړے شو: حُضُورا! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکے او نورو ته ښودونکے."**(1)**

| | |
|---|---|
| سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا |
| سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا | جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا |

## "تيل لګول" سُنَّتِ مصطفٰی دي

**دوه فرامينِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَالِهٖ وَسَلَّم: **(1)** څوك چې بغير د بِسْمِ الله لوستلو نه تيل

[1] ...جامع بيانِ عِلم، بَابُ: عِلم کے فضائل، جلد: 1 صفحه: 201، حديث: 220۔

اولګوي نو 70 شيطانان د هغه سره شريك كيږي.[1] (2) چې كله په تاسو كښې څوك تيل لګوي نو اوَّل دِ د ورووزو نه شروع اوكړي، د دې سره د سر درد لرې كيږي. [2]

**اے عاشقانِ رسول!** تيل لګول زمونږ د خوږ آقا، مكي مَدَني مصطفٰى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. ❀ زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دومره زيات تيل لګول چې د مباركو زُلفو نه به ئې د تيلو څاڅكي څڅيدل.[3] ❀ خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په دويمه ورځ تيل لګول خوښولو.[4] ❀ سُنَّت دا دي چې بِسْمِ الله اولولئ په كيڼ ورغوي كښې تيل واچوئ د ښي لاس د شهادت په ګوته باندې اوَّل په دواړو ورووزو بيا د سترګو په دواړو بڼړو باندې بيا په سر باندې تيل اولګوئ، دغه شان په ګيره كښې د تيل لګولو په وخت كښې د لاندې شونډې او د زنې د مينځ ويښتو نه شروع كول سُنَّت دي. [5]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامى هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِنِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

---

1 …عمل اليوم والليلة لابن سنى، باب: التسمية اذادہن، صفحه: 116، حديث: 174۔

2 …جامع صغير، صفحه: 28، حديث: 369۔

3 …شمائل محمديه، باب: فى ترجل رسول الله، صفحه: 115، حديث: 33۔

4 …شعب الايمان، باب: فى الملابس، فصل: كراہية الوسخ، جلد: 5، صفحه: 168، حديث: 6226۔

5 …معجم اوسط، جلد: 5، صفحه: 366، حديث: 7629 و كنز العمال، جز: 7، جلد: 4، صفحه: 46، حديث: 18295۔

الْحَبِيْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاہِ وَ عَلٰی اٰلِہٖ وَ صَحْبِہٖ وَ سَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيّدُنا انَس رضی اللہ عنہ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

---

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا

2...القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُود شريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك اوچتې مرتبې والا دے! چې کله هغه لاړو نو سرکارِ مدينه صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف

---

1... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2... القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب فی كيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵